**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۲** **نېټه: ۱۰ / ربیع الاول / ۱۴۴۵ هـ ق | برابره ده له: ۳/تلې/۱۴۰۲ هـ ش**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

و بعد: په ۲۸/صفر المظفر/۱۴۴۵ هـ ق نېټه، چې ۲۲/وږي/۱۴۰۲ هـ ش سره برابره ده، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي شورا غونډه د محترم قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس صاحب په مشرۍ جوړه شوه چې د یادې غونډې لومړنۍ موضوع داسې وه: ((په کابل او ځینو ولایتونو کې د افغانستان اسلامي امارت په محکمو کې د ځینو موضوع ګانو د بررسۍ په جریان کې د نورو هیوادونو سفارتونو او قونسلګریو څخه د معلوماتو ترلاسه کولو ته اړتیا راولاړېږي، پر همدې بنسټ پوښتنه دا ده: آیا محکمې دا معلومات نېغ په نېغ وغواړي که د بهرنیو چارو محترم وزارت له لارې یې ترلاسه کړي؟))

د سترې محکمې محترمې عالي شورا د ۲۸/صفر المظفر/۱۴۴۵ هـ ق نېټې، چې ۲۲/وږي/۱۴۰۲ هـ ش سره برابره ده، د (۴) ګڼه تصویب د لومړنۍ پرېکړې پر بنسټ په دې اړه داسې هدایت وکړ:

((کله چې د افغانستان اسلامي امارت په محکمو کې د ځینو موضوعګانو د بررسۍ په جریان کې د نورو هیوادونو سفارتونو او قونسلګریو څخه د معلوماتو ترلاسه کولو ته اړتیا احساس شي، په دې صورت کې دې محکمې خپله غوښتنه د سترې محکمې عالي محترم مقام ته واستوي او ستره محکمه د اړتیا په صورت کې د بهرنیو چارو محترم وزارت څخه د معلوماتو غوښتنه کوي.

کله چې د بهرنیو چارو وزارت له خوا له سترې محکمې سره د موضوع په تړاو معلومات شریک شي، نو یاد معلومات د سترې محکمې د مقام د دفتر ریاست له لارې اړونده محکمې ته استول کېږي.

همدارنګه، د هیوادونو سفارتونه او قونسلګرۍ دې هم له محکمو څخه نېغ په نېغه خپل معلومات نه غواړي، بلکې د بهرنیو چارو وزارت له لارې دې د سترې محکمې محترم مقام څخه د معلوماتو غوښتنه وکړي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنی لیکلی هدایت د دې متحدالمآل په واسطه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته واستول شو تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراآت وشي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

**ستره محکمه**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.